ليکوال: شريف بهاند اپريل، ۲۰۰۷

# بريتانيا:
# د طبيعي زيرمو په باب زړې نوې ستراتيژۍ
## لومړۍ برخه

"د تيلو په سوداګرۍ کې اصلی کټونکي د طبيعي زيرمو
خاوندان نه دي، بلکې برعکس هغه څوک دي، چې دغه
زيرمې راباسي او بازار ته يې وړاندې کوي ...".
هانس کرونبرګر

**سريزه:**

په اوسنۍ نړۍ کې هيڅ ډول هاند و هڅه پرته د انرژۍ له لګښته نه شي تر سره کيدی. د نړۍ په ډيرو برخو کې (پرته د اسيا او افريقا له ځينو پرمختيايي هيوادونو څخه) انسانان د بيوماس (لرګي، د وابنو پاتي شوني او د انرژۍ رامنځته کونکي ګياوې، د څارويو خوشايي او د داسې ... نور) له پير څخه تير او د ماشين په رامنځته کيدو سره د ډبرو د سګرو هغه رسيدلي دي. په دې توګه د اتلسمې پيړۍ له وروستيو لسيزو څخه راپېښوا تر لومړۍ نړيوالې جګړې پورې د ډبرو سګاره د انرژۍ بنسټيزه سرچينه بلل کيده.

خو د لومړۍ نړيوالې جګړې او په تيره بيا د دوهمې نړيوالې جګړې په ترڅ کې د ډبرو د سګرو لګښت مخ په کميدو او د هغو پر ځای د تيلو لګښت د هيوادونو د پام وړ وګرځيد. دغه بدلون او پرمختيا نه د ډبرو د سګرو د زيرمو د خلاصون، بلکې د تيلو د ښيګڼو له امله شونی شو. د تيرې پيړۍ په بهير کې د تيلو له دغو ښيګڼو څخه د نورو تر څنګ تر ټولو دمخه په جګړه بيزو وسايلو، تجهيزاتو او بيرو کې ګټه واخيستل شوه. لکه څنګه چې ادولف هيتلر د دوهمې نړيوالې جګړې په ترڅ کې ويلي و: " که موږ و نه شو کړای، باکو ونيسو، د جګړې بايلل حتمي بريښي"(Kronberger, Hans, 1998, S.56). همدارنګه په شمالی افريقا، الجزاير او مراکش کې د متفقينو په پلې کيدو سره، الماني ځواکونه د نورو لوژيستکي توکو ترڅنګ، د سوند د موادو له نشتوالي سره مخامخ شول، څکه سيالو ځواکونو ټولې لارې پر هغوی بندې کړې. نو د المان د پلو ځواکونو قومندان، مارشال رومل Rommel متفقينو ته له تسليميدو پرته، بله لار نه درلوده. نوموړي مارشال هيتلر ته ګواښ کړی و: " تر ټولو زړه ور کسان پرته له شوبلو او عالي شوبلي پرته له ډيرو تجهيزاتو بې ګټې دي، شوبلي او مرمي په جګړه کې، چې جبهې يې تل د بدلون په حال کې دي، هيڅ ګټه نه لري، که هغه د نقليه وسايلو او د پوره اندازه نفتو په مرسته په خوځښت رانشي" (Kronberger, Hans, 1998, S.56-57). په دې توګه روښانه کيږي، چې تيلو ان په دواړو نړيوالو جګړو کې بنسټيز رول لوبولی دئ او د برياوو او ماتو لامل و. په لومړۍ جګړه کې د متفقينو د برياوو په اړه، د جنرال دو پټرول د کميټې Général du Comité Petrole مشر، هنری برنژر Henry Bérenger ويلی و: "لکه څنګه چې تيل د جګړې وينه وه، د سولې وينه به هم شي. د برياوو په دې شيبو او د سولې په درشل کې، زموږ خلک، صنايع، سوداګری، بزګر د زياتو تيلو غوښتونکي دي. بيا هم تيل، نور زيات تيل، بيا هم نفت، لا نور نفت "(Kronberger, Hans, 1998, S. 45).

د تيلو د دغه ارزښت له امله، سترو ځواکونو د خپل بهرنی سياست په اړانه کې ځانګړې ستراتيژۍ طرح او هغه يې له بيلا بيلو لارو او د بيلا بيلو وسايلو په مرسته د عمل په ډګر کې پلي کړې دي، چې د هغه په ترڅ کې دسيسې او کودتاوې شوي، نوي هيوادونه رامنځته او رژيمونه راپرځول شوي دي. خو ښه به دا وي، چې د دا ډول پيښو د روښانه کولو له پاره د تاريخ تيرو پاڼو ته مخه کړو او تر ټولو دمخه راوسپړلو، چې دغو ستراتيژيو په رښتيا هم د نړۍ د تيلو د زيرمو لرونکو هيوادونو، پر زمکني بشپړتيا، د هغوی پر سياسي او اقتصادي کړنلارو څه ډول اغيز کړی؟ ايا د دغو ستراتيژيو له تجربو څخه په اوسمهاليزه نړيوال سياست کې هم ګټه ترلاسه کيږي او که نه؟ دې پوښتنو ته د ځواب له پاره، اړينه ده، چې د وخت د ستر ځواک د تيلو په اړه ستراتيژۍ وڅيړل شي او هغه د بريتانيا د امپراتورۍ نفتي سياست دئ.

د بريتانيا نفتي سياست:

د نولسمې پيړۍ په پای کې بريتانيا له سياسي، اقتصادي او پوځي پلوه يو ستر او مخکښ ځواک و. دغه هيواد د نړۍ په سمندرونو او ورسره جوخت، د ادام سميت Adam Smith د ازادې سوداګرۍ د تيورۍ له مخې د نړۍ پر هغې واکمنې درلوده. بريتانيا د خپلې پيسې، سترلينګ پوند، چې سره زر يې پشتوانه وو، په مرسته د ستر ځواک خاوند او د نړۍ ټولو هيوادونو ته يې پور ورکاوه او دغه پور په نړۍ کې د بريتانيا د اعتبار بنسټيزه سرچينه بلل کيده. بريتانوي

نخبګانو هم د خپل هیواد د پوځ له برياوو څخه په ګټي اخیستني سره هڅه کوله، چي د نړۍ له هرې برخي په تیره بیا استرلیا، کلفورنیا او سویلي افریقا څخه سره زر خپل هیواد ته راوړي او د انګلند د بانک په زیرمه تونونو کي یې ځای په ځای کړي. که څه هم دغه بانک یو خصوصي شرکت و، خو د پاچاهي دولت اوامر یې په ښه توګه تر سره کول، د نړیوالي مالي پانګي لاربنوونه یې په لاس کي لرله او په دې توګه یې " د بریتانیا د حکومت بهرني سیاست تر خپل اغیز لاندي راوست او د دغه هیواد او نورو هغو دولتونو تر منځه، چي هغوي هم د خپلو سرو زرو د زیرمو د پراختیا په هڅه کي وو، کړکیچ رامنځته کاوه" (Engdahl F. W., 2003, S. 10 ).

د بریتانوي چارواکو دغه له بریاوو ډک راز په دې کي نغښتي و، چي دوي له اقتصادي څانګو او همدارنګه له څارګري سازمان سره نږدې اړیکي او له هغوي سره یې په ګډه کار تر سره کاوه. سربیره پر دې د بریتانیا هیواد د خپلو زیاتو مستعمرو په لرلو سره د طبیعي او اومه توکو په راکړې ورکړې هم واکمن و. په لنډه توګه سرې کولی شی ووایي، چي د بریتانیا امپراتورۍ د دغو درې بنسټیزو ستنو په مرسته پر نړۍ خپله واکمني چلوله او دغه درې ستني په لاندې ډول دي:

- د بریتانیا واکمني پرسمندري لارو او له هغه سره جوخت په نړیوالي سوداګرۍ کنترول؛
- د نړۍ پر مالي بازار کنترول؛
- او د ګټي اخیستني وړ اومه توکو د زیرمو کنترول (Engdahl F. W., 2003, S. 81 ).

دغه اومه توکي تر ټولو دمخه د ډبرو سګاره، فلزي ډبرې، مالوچ او قهوه وه. خو د نولسمي پیړۍ په پای کي تور زر (تیل) تر ټولو مهم او ستراتیژیک اومه توکي شول (Engdahl F. W., 2003, S. 12 ).

خو د دغي ځواکمنۍ امپراتورۍ لومړې ناکامي (ماته) د آزادي سوداګرۍ د کړنلارې په پلي کیدو سره رامنځته شوه. د دغي کړنلارې پلویانو خپله بنسټیزه پاملرنه د توکو له تولید او پرمختیا څخه نړیوالي سوداګرۍ او په بهر کي پانګي اچوني ته ورواړوله. په خپله بریتانیا کي له اقتصادي پرمختیا سره په نامسؤولانه توګه چلند وشو. ارزانو وارداتو د بریتانیا د نساجي پیژندل شوي صنعت او د کرني سکتور داسي ویجاړ کړ، چي بالاخره د ۱۸۷۳ – ۱۸۹۶ کلونو ترمنځه د سترو اقتصادي ستونزولامَل وګرځید.

په همدي وخت کي د بریتانیا دولت د لومړۍ ځل له پاره له اقتصادي او پوځي ځواکمنو سیالانو سره مخامخ شو. هیوادونو لکه المان او فرانسي، د خپلو کورنیو صنعتي او کرنیزو تولیداتو په ګټه، د سمونونو په پلي کولو سر بیره، سخت ساتندویه ګمرکي مقررات رامنځته کړ. په تیره بیا د نولسمي پیړۍ په پای کي د المان اقتصادي ودې د بریتانیا امپراتورۍ ډیره ناارامه کړه. د المان دغه اقتصادي وده تر ټولو دمخه په لاندنیو برخو کي په ښه توګه ترسترګو کیده:

- د مدرنو جګړه ییزو او سوداګریزو بیړیو جوړول، چي په سمندري لارو کي یې د بریتانیا نامحدوده واکمنۍ له ګواښ سره مخامخ کړه؛
- او د عثماني امپراتورۍ پر شا و خوا راتاوو د برلین ـ بغداد په نامه د ریلګاډي د ګرښي جوړول و (وګورۍ: Engdahl F. W., 2003, S. 27 ).

سربیره پر دې د ۱۸۵۰ – ۱۹۰۰ کلونو تر منځه د المان کورني تولیدات پنځه برابره لوړ شول او د همدي کلونو په ترڅ کي د سرې سر د تولید وړتیا په سلو کي ۲۵۰ وده او ورسره جوخت صنعتي تولیدات، د ساری په توګه فولاد، د ډبرو سګاره، بریښنا، الکترونیکي وسایل ... او داسي نور زیات شول او د هر کارګر، چي په صنعتي سکتور کي په کار بوخت و، حقیقي عاید دوه برابره شو. له تخنیکي وسایلو څخه په ګټي اخیستني سره د کرني د سکتور په تولیداتو کي هم زیاتوالي رامنځته شو (وګورۍ Engdahl F. W., 2003, S. 28-32). خو د بریتانیا حکومت تر ټولو دمخه د المان د سمندري ځواکونو ځواکمنتیا د خپلي امپراتورۍ په وړاندي ستر ګواښ باله. په همدي باب یو تاریخ پوه وایي: " تر کومه ځایه چي د هغه وخت په عقایدو پوري یې اړه درلوده، د سمندري ځواکونو مسأله د المان او بریتانیا تر منځه د اړیکو په خړ پړتیا کي ډیره مهمه موضوع بلل کیده" (Yergin Daniel, 1991, S. 196 ). همدارنګه د المان د سمندري ځواکونو جنرال (آدمیرال)، تیرپیتځ Tirpitz هم د المان په امپراتور ویلهلم Kaiser Wilhelm ټینګار وکړ،"که المان غواړي د نړۍ د څلورو ځواکونو، روسیه، انګلستان، امریکا او المان په ډله کي وشمیرل شي، نو د یوه ستر سمندري ځواک رامنځته کول ورته ژوندیز ارزښت لري" (Kennedy, Paul, 1994, S. 303). څکه د المانانو او د دوي د دولت موخه " پر نړۍ باندي د بریتانیا د واکمنۍ له منځه وړل و، خو د مرکزی اروپا هیوادونه هم وکړی شي مستعمرې، چي دوي هغو ته د خپلي زمکنۍ پراختیا له پاره اړتیا لري، تر لاسه کړی. په دې لاره کي لومړی ګام د

یوه سمندري ځواک رامنځته کول دي، چې هغه وکړی شي د بریتانیا [له سمندري ځواک سره] سیالي وکړي" (Yergin Daniel, 1991, S. 197). نو له همدې امله د بریتانیا په وړاندې تر ټولو دمخه دا مسأله رامنځته شوه، چې څنګه او له کومو لارو د دغه سیاسي او اقتصادي ګواښ په وړاندې چلند وکړي.

نو ځکه د بریتانیا حکومت هم دې ته اړ شو، چې په د بېړیو د پراختیا په برخه کې خپلې سیالي ته دوام ورکړي. ځکه "د سمندرونو په اړه سیاست د بریتانیا د امپراتورۍ د امنیت او د هغې د نړیوال رول بنسټ جوړاوه " (Yergin Daniel, 1991, S. 197). دغه ارزښت ته په پاملرنې سره د بریتانیا د هغه وخت لومړی وزیر وینستون چرچیل په خپله وینا کې په روښانه توګه وویل، چې:"زموږ د ولس او امپراتورۍ برخلیک او ټوله نیکمرغي، زموږ ټوله شتمنې، چې د څو پېړیو په ترڅ کې مو په سربښندنې او برۍ سره ترلاسه کړې ده، په سمندري برترۍ پورې اړه لري، که نه نو دغه ټول به له لاسه لاړ شي" (Yergin Daniel, 1991, S. 199).

همدا لامَل و، چې په کال ۱۸۸۲ کې جان فیشر John Fischer د سمندري ځواک لومړنی لارد وړاندیز وکړ، چې د جګړه ییزو بېړیو تجهیزات او د سوند توکي دې د ډبرو له سګرو څخه، تیلو ته بدلون ومومي، څو په دې توګه بریتانیا خپل کنترول پر نړیوالو سمندرونو وساتلي شي. له لومړنیو مخالفتونو وروسته، فیشر په دې بریالي شو، چې د بریتانیا حکومت د تیلو په ستراتیژیک ارزښت باوري کړي. د فیشر دغه لیرلید (دوراندیشی) بالاخره نوموړي ته د سمندري ځواک د جنرالی د رتبې په ورکړې سره وستایل شو. خو په دې برخه کې د بریتانیا ستونزه یوازې په دې کې نغښتې وه، چې " دغه هیواد په خپله د تیلو زیرمې نه لرلې او د امریکا د متحدو ایالتونو، روسیې او یا مکسیکو د تیلو په زیرمو پورې یې تړلتیا درلوده"( Engdahl F. W., 2003, S. 39).

له همدې امله د بریتانیا حکومت په دې هڅه و هاند کې شو، چې دغې وضعې ته بدلون ورکړي. نوځکه په ۱۹۰۴ کال کې د بریتانیا ټولواک، اووم ادوارد Edwards VII خپل ځارګر سازمان ته دنده ورکړه، د جګړه ییزو بېړیو د سوند د توکو د سمبالښت له پاره، تیل لرونکې سیمې په نښه او که شونی وي، هغه تر خپل نیواک او یا کنترول لاندې راولي. په دې توګه د بریتانیا دولت وکولي شول، چې په لومړی ځل په کال ۱۹۰۵ کې د فارس د خلیج په سیمه کې د تیلو سترې زیرمې تر خپل کنترول لاندې راولي.

همدارنګه د المان هیواد هم د ترکانو (د اوسنی عراق) د تیلو زیرمو ته سترګې نیولي وې. د دې له پاره چې د دغو زیرمو تیل بې له کوم ګواښ او د بریتانیا د سمندري ځواک له پامه پرته المان ته راولیږدول شي، د برلین ـ بغداد د ریلګاډي د پټلې جوړول تصویب او دویچې بانک (د المان یو خصوصی بانک) د هغه د مالي لګښت سمبالول په غاړه واخیست. المان په پام کې درلودل، چې د دغې ګرښې د جوړولو په مرسته خپله پوځي او اقتصادي برتري د مدیتراني د سمندرګي په ختیځه سیمه کې ثابته او هغه په خپله ګټه راولاړوی، ځکه چې په وچه کې ریلګاډی لا د مسافرینو او توکو د لیږدولو یوازینې مناسبه وسیله ګڼل کیده.

خو د المان دولت د ترانسپورتي شونتیاوو ترڅنګ دوهم امتیاز، چې ارزښت یې تر لومړی امتیازه لږ نه و، د خپل ځان په ګټه سمبال کړ. د المان د تیلو شرکتونو دا حق ترلاسه کړ، چې د ریلګاډي د شا و خوا تر شل کیلومترې پورې د هغو له پرتو زیرمو څخه ګټه ترلاسه کړي. (وګورئ Engdahl F. W., 2002, S. 5). په دې توګه المان د خپلو تیلو اړتیا په څه نا څه ډاډمنه توګه او د اوږدې مودې له پاره سمبال او له هغو څخه یې د بریتانیا د سمندري محاصرې په وړاندې، چې په هغو لارو یې برتري درلوده، ساتنه کولي شوه.

د همدې لامَل پر بنسټ د بریتانیا حکومت، خپلې سیاسي او اقتصادي موخې تر جدی ګواښ لاندې ولیدلې. ځکه المان له یوې خوا د بریتانیا برتر دریځ د مدیتراني د سمندرګي په ختیځ کې تر پوښتنې لاندې راوست او له بلې خوا یې د فارس د خلیج په سیمه کې هم د هغه ګټې په محسوسه توګه له ګواښ سره مخامخ کولي. د برلین ـ بغداد د ریلګاډي د ګرښې په جوړولو سره به د لومړی ځل له پاره د قسطنطنیې او د عثماني امپراتورۍ اسیایي برخې په مدرنو ترانسپورتي وسایلو سره نښتې او شونې وه، چې د بغداد او کویت له لارې د اروپا او هند تر منځه ترټولو ارزانه او ګړندې لاره رامنځته شوې وي. په دې توګه کیدی شواي، هغه ستره سیمه، چې په هغې کې بریتانیا سترې ګټې تر سترګو لاندې کړې وې، د المان تر اغیز لاندې راغلي وای. سربیره پر دې الماني سرتیرو کولي شول، د بریتانیا ګټو ته په مصر او د سویز په کانال کې ډېر ورنږدې او هند ته تر ټولو مهمه ارتباطي لار هم تر یرغل لاندې ونیسي (وګورئ Engdahl F. W., 2002, S. 2-3).

خو د برلين ـ بغداد د ګرښې په اړه په صربستان کې بريتانوي پوځي سلاکار آر، جی، دی لافن R. G. D. Laffan د هغه وخت جيوپوليتکي حالت په روښانو کلماتو سره داسې بيانوي: " د نړۍ نقشې ته په يو نظر اچونې سره، سړی ته روښانه کيږي، چې د برلين او بغداد تر منځه کړۍ له کومو پرتو هيوادونو څخه جوړه شوې ده. د المان امپراتوري، اتريش، هنګري، بلغاريا او ترکيه. خو يوازې يوه نړۍ او کوچنۍ تراړه د دې خنډ ګرځي، چې د دې کړۍ دواړه سرونه يو له بله سره ونښلوي. دغه کوچنۍ تراړه صربستان دئ. ... په عمل کې صربستان په ختيځ کې زموږ د نيواک لومړنې دفاعي ګرښه وه. که دغه ګرښه يا له منځه تللې وی او يا هم د برلين ـ بغداد په نظام کې ادغام شوې وی، نو زموږ ستره امپراتوري، خو په خپلې دفاع کې کمزورې، به ډير ژر د المان د نه خوښونکي پرمختک شوک د ختيځ په لوری احساس کړی وی" (Kronberger, Hans, 1998, S. 37).

په دې توګه د برلين ـ بغداد د ريلګاډي د ګرښې جوړولو نه يوازې د اروپا، بلکې د نړۍ په کچه جيوپولتيکي حالت ته په دراماتيکه توګه بدلون ورکړ. ډير تاريخي شنونکي په دې باور دي، چې د شلمې پيړۍ په پيل کې د بريتانيا امپراتوري، د پراختياغوښتنې روښانه سياست ترلاسه لاندې نيول و، او په دې لټه کې و، چې د جګړې له پاره پلمه ترلاسه کړي. په همدې کال، ۱۹۱۴ کې د اتريش شهزاده، فرانس فردیناند Franz Ferdinand په سارايوو کې د ډزو په ترخ کې ووژل شو (وګوري:Der Brockhaus, Bd., 12, 1998, S. 195). د بريتانيا حکومت دغه وژل پلمه او لومړې نړيواله جګړه يې پيل کړه. خو په واقعيت کې د جګړې بنسټيز لامَل د تيلو په ناڅرګندو (نامرئی) ګټو کې نغښتی و.

ځکه د بريتانيا حکومت هغه مهال په هر حال ډاډمن و، چې تيل د يوې مهمې وسيلې په توګه د خپلې امپراتورۍ د اقتصادي، سياسي او پوځي واکمنې د تأمين له پاره په خپل واک کې لري. سربيره پر دې له هر هغې سيمې څخه، چې د تيلو د زيرمو زيري ترلاسه کيده، د ساری په توګه د فارس د خليج سيمه، دوي به هلته په کړو وړو لاس پوري او د دغو زيرمو امتياز به بريتانوی شرکت، انګلو ـ پرشين Anglo-Persian (اوسنی بريتش پتروليم BP) تر لاسه کړ. د انګلو ـ پرشين د نفتي شرکت بنسټيزه دنده د بريتانيا د پوځ، په تيره د هغه د سمندري ځواک د تيلو سمبالښت و. په همدې وخت کې د بريتانيا د هيواد د تيلو سياستوال د اوسني کويټ په سيمه کې تګ او راتګ کاوه او د کويټ واکمن، شيخ مبارک الصباح ته يې د سروزرو او وسلو ژمنه ورکړه. شيخ بايد د هغه په بدل کې خپله خاوره د بريتانيا د پروتکتورات Protectorat په توګه اعلان او د هغې واک يې بريتانويانو ته ورکړې وي. سربيره پر دې د دغو ژمنو يوه بنسټيزه موضوع دا هم وه، چې يوازې هغه بريتانوي شرکتونه، چې د بريتانيا د حکومت له خوا مطلوب ګڼل کيدل، د تيلو د راايستلو اجازه ترلاسه کوله (وګوري Engdahl F. W., 2002, S. 5). دغه مطلوب شرکت تر ټولو دمخه انګلو ـ پرشين و.

نو کله چې په کال ۱۹۱۱ کې وينستون چرچيل د لارد فيشر ځای ناستی شو. نوموړي هم تر هر څه دمخه هغه تړون لاسليک کړ، چې د هغه پر بنسټ د ايران ـ انګليس د تيلو د شرکت اکثريت اسهام د بريتانيا د دولت په مرسته تأييد شول. په دې توګه د تيلو د کنسرنونو او سياست تر منځه اړيکې په اروپا کې ثبت شوې.

که څه هم په کال ۱۹۱۲ کې د امريکا متحدو ايالتونو د تيلو د نړيوال لګښت دری شپته، روسيې نولس او مکسيکو پنځه په سلو کې برابرول. د تيلو د نړيوالو سمبالښت په برخه کې د ايران ـ انګليس د شرکت ونډه لا د يادولو وړ نه وه، خو د فارس د خليج سيمه د بريتانويانو د ګټو سيمه بلل کيده(وګوري Engdahl F. W., 2002, S. 7).

خو بريتانوي امپراتورۍ د ستر ځواک په توګه د خپل نيواک د ټينګښت له پاره هڅه کوله، چې د نړۍ د تيلو په پيژندل شويو زيرمو باندې برلاسی ترلاسه کړي. په کال ۱۹۰۵ کې د روسيې او چاپان له جګړې وروسته، چې په هغې کې بريتانيا له چاپانيانو څخه ملاتړ وکړ، د افغانستان او ايران د تيلو د راايستلو حق د بريتانويانو په قباله وليکل شو او دوي ته په ختيځه اسيا کې يو بل امتياز هم ور په برخه شو او په دې توګه المان پرته د عثمانې امپراتورۍ د تيلو د زيرمو له ټولو پيژندل شويو هغو څخه بې برخې شو. په دغه وخت کې عثمانې امپراتورۍ له قسطنطنيې څخه نيولی تر عدن او ايران پورې پراختيا درلوده. دغو زيرمو بايد په لومړې نړيواله جګړه کې مهم رول لوبولی وي.

اخځ:

1- F. William Engdahl: Mit der Bahn von Berlin nach Bagdad, 2002 in:

http://www.jahrbuch2002.studien-von-zeitfragen.net/Weltmacht/Bagdadbahn/bagdad...

2- F. William Engdahl: Mit der Ölwaffe zur Weltmacht: Der Weg zur neuen Weltordnung, Wiesbaden, 2003;

3- Hans Kronberger: Blut für Öl: Der Kampf um die Ressourcen, Wien, 1998;

4- Der Brockhaus, in fünfzehn Bänden, Leipzig, 1998;

5- Paul Kennedy: Aufstieg und Fall der Grossen Mächte, Frankfurt am Main, 1994;
6- Daniel Yergin: Der Preis: Die Jagd nach Öl, Geld und Macht, Frankfurt am Main, 1991;